لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ» أَوْ قَالَ: «غَيْرَهُ». "مومن سړی دې له مؤمنې ښځې کرکه نه کوي، که د هغې يو خوی يې نه خوښېده، بل به يې خوښ شي» -رواي وايي چې-او يا يې وويل چې بل يو يې (يعنې بل خوی به يې خوښ شي).

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مېړه له خپلې مېرمنې سره له دومره کركې کولو منع کړی چې له هغې سره د ظلم کولو، د هغې د پرېښودلو او له هغې څخه د مخ اړولو لامل ګرځي. انسان له نيمګړتيا سره پيدا شوی، نو که د هغې يو خوی يې نه خوښېده، بل نيک خوی به پکې ومومي چې د ده په مزاج برابر وي او پرې خوښ شي، او کوم بد خوی يې چې نه خوښېده په هغه به صبر کوي، نو صبر کول يې اړباسي دومره کركه ترې ونه کړي چې له امله يې ترې جلا شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3071